محمد انور اخګر ۲۰۲۵/۱۱/۰۵

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یوسل او څلورمه برخه)

### هغوی چې د ولسمشر کېنېډي د ترور رازونه ورسره وو، ووژل شول (۲)

**ویلیام سالیوان:** نوموړی د (اف‌بي‌آی) له لوړپوړو کسانو څخه ؤ چې د پټو عملیاتو په پروژه کې بنسټیز ؤ، **هغه د ۱۹۷۷ز. کال د نومبر په ۹مه نېټه، په شوګر هیل کې له خپل کورسره نیږدې په ډزو وویشتل شو.** ټاکل شوې وه چې سالیوان به د استازو جرګې ټاکلې کمېټې ته د تروورونو په اړه شهادت ورکړي. سالیوان د هغو شپږو لوړپوړو افسرانو په ډله کې ؤ چې د ۱۹۷۷ز. کال د شپږو میاشتو په اوږدو کې ووژل شو.[1]

**سام جیانکانا:** دا کس د شیکاګو د مافیا د جنایتکارې ډلې مشهوور مشر ؤ چې د کیوبا د ولسمشر فیډل کاسترو د ترور په هڅه کې یې له سي.آی.اې سره مرسته کړې وه او د ولسمشر کېنېډي په وژلو کې یې په لاس لرلو هم تورن ؤ، **جیانکانا لږ مخکې له هغې چې د استازو د کمېټې پر وړاندې (چې د وارن کمېسیون د پرېکړو د بیاکتنې مسئله وه) شهادت ورکړي، د امریکا د (الینوی ایالت په اوک پارک) د خپل کور په پخلنځي کې د ۱۹۷۵ز. کال د جون په ۱۹مه نېټه په ډزو وویشتل شو.**[2]

**رابرټ اف. کېنېډي:** د ولسمشر جان ایف. کېنېډي وروور، رابرټ کېنېډي چې د امریکا د لوی څارنوال دنده یې لرله، د خپل وروور د ترور په اړه ډېرې پلټنې وکړې خو په دې اړه د ده هڅې ناکامې وې ځکه چې د امریکا استخبارات، مافیا او موساد یې پر وړاندې ولاړ وو.

هغه مهال چې رابرټ کېنېډي د امریکا د ۱۹۶۸ز. کال د ولسمشریزو ټاکنو کې د دیموکرات ګوند نوماند شو نو د ده دښمنانو د هغه د وژلو هڅې ګړندۍ کړې، **کله چې رابرټ کېنېډي د کالیفورنیا په لومړنیو ټاکنو کې بریالی شو** او په چټکۍ سره د بریا پر لور روان ؤ، شوني وه چې د امریکا ولسمشري ترلاسه کړي. په ټاکنو کې د نوموړي بریا د هغه د دښمنانو او مخالفانو لپاره جدي ګواښ بلل کېده، د براټ کېنېډي دښمنان په وېره کې وو چې هغه به له سپینې ماڼۍ څخه د خپل وروور د ترور په اړه پلټنې پیل کړي. هغه وو چې د رابرټ کېنېډي دښمنان بریالي شول او **هغه یې په (Ambassador Hotel) هوټل کې د یو تن عرب مسیحي فلسطیني، سیرهان - سیرهان په لاس ترور کړ، سیرهان - رابرټ کېنېډي ته ورنږدې شو او اته ډزې یې پرې وکړې او هغه خپل ژوند له لاسه ورکړ.**[3]

د پورته وژل شویو کسانو په څېر نور ډېر کسان هم شته چې د کېنېډي ورونو د ترور او د هغوی د کورنۍ په راز خبر وو چې له امله یې ووژل شول خو د هر یو په تفصیل سره یادول د کتاب د پنډوالي سبب کیږي، له دغو کسانو څخه یوازې د څو تنو نومونو په لیکلو بسنه کوو:

مخکې له هغې چې لاندې څو تنه د استازو ټاکل شوې کمېټې ته حاضر شي او خپل شهادت ورکړي، مړه شول:**(لویس نیکولاس)** د، اف‌بي‌آی د مشر (جې. ایډګر هوور) ځانګړی مرستیال او د وارن کمیسیون سره د هغه اړیکه؛ د جې. ایډګر هوور بل ځانګړی مرستیال، **(آلن ایچ. بلمونټ)**؛ بل تن **(جیمز کادیګان)** ؤ، هغه د اسنادو متخصص ؤ چې د جان ایف. کېنېډي د مرګ اړوند اسنادو ته یې لاسرسی درلود؛ **(جې. ایم. اینګلیش)** چې د اف‌بي‌آی د طبي علومو پخوانی مشر ؤ او د اف‌بي‌آی د ګوتو نښو کیمیاپوه ؤ او **(دونالډ کیلر)** چې د کېنېډي د ترور په ځای کې یې د موندل شوو ګوتو نښې (اثار) څېړلي وو.

د ولسمشر کېنېډي له وژل کېدو ۱۹۶۳ز. کال څخه تر ۷۰یمې لسیزې پورې د ځینو مهو کسانو مالومات وړاندې شول، برسېره پر دې، کله چې له ۱۹۷۰ز. کال وروسته د سنا جرګې د استخباراتو ټاکل شوې کمېټه او د استازو

---

[1]:http://www.spartacus.schoolnet.co.uk/JFKindex.htm

[2]: سفایر، ویلیام (۳۱ دسامبر ۱۹۷۵). "قتل ناجوانمردانه‌ترین" . روزنامه تایمز

[3]: https://www.jstor.org/stable/23207729

جرګې د تروررونو ځانګړي کمېټه جوړه شـوه چې د کېنېډي د ترور په هکله څېړنې پيل کړي، د شـــاهدانو وژنې په څرګنده توګه لاپسې ډېرې شوې (لکه وړاندې چې يادونه شوي ده) په دوی کې يو شـمېر جنايتکاران هم شـامل وو چې د بهرنيو سياسي مشرانو د وژلو عمليات يې ترسره کول، هغه کسان چې په ۷۰يمه لسيزه کې وژل شوي دي د ځينو نومونه داســـې دي: **لوســـين ســـارتي (۱۹۷۲)، توماس ډيويس (۱۹۷۳)، ديو ياراس (۱۹۷۴)، جيمي هوفا (۱۹۷۵)، جاني روزلي (۱۹۷۶)، جورج ډي موهرنشـــيلډ (۱۹۷۷)، چارلي نيکولتي (۱۹۷۷) کـارلوس پريو (۱۹۷۷) او نور.**[4]

له پورته وژل شويو کسانو هاخوا، ځينو امريکايي څېړونکو داسې مالومات هم وړاندې کړي چې د کېنېډي وروڼو د ترور د شـــاهدانو او شـــواهدو د له منځه‌وړلو په موخه دوه مســـافرووړونکي الوتکې او يوه شـــخصـــي الوتکه هم راغورځول شـــوي دي چې لومړی يې د يونـايټډ ايرلاينز ۵۵۳ الوتکه وه چې پـه ۱۹۷۲ز. کـال کې د امريکا د استخباراتو د لوړپوړو افسرانو لـه‌خوا په شيکاګو کې راوغورځول شوه، د الوتکې د ۶۱ مسافرو څخه ۴۳ تنه او پر ځمکه دوه کسان ووژل شول. وايي چې نوموړي الوتکه د ميرمن **(دوروتي هانت)** د وژلو په موخه وغورځول شوه، دوروتي هانـت **د، ســـي‌آی‌ای د يو کارکوونکي (ای. هاوارد هانـت) ميرمن وه چې د خليج د خوګانو د عملياتو ګډونوال، د ولسمشر کېنېډي د ترور عيني شاهد او د (واترګېټ) دسيسې له غلو څخه ؤ،** ای. هاوارد هانت چې د واترګېټ د پېښـې له کبله تر فشـار لاندې راغلی ؤ، د خپلې ميرمنې، دوروتي هانت له وژل کېدو وړاندې يې ګواښ وکړ چې د کېنېډي د ترور راز به افشا کړي.

يو شمېر کسـان په دې نظر دي چې ميرمن هانت د واترګېټ د پېښـې له کبله ووژل شـوه چې د واترګېټ هوټل څخه غلا شـوي پېسـې او اسـناد يې په (يونايټډ ايرلاينز ۵۵۳) الوتکه کې انتقالول چې «حکومتي ادارو د نوموړي الوتکې د سـقوط په اړه ترسـره شـوی ناوړه عمل پټ سـاتلی دی چې له امله يې دغه پېښــه د (واترګېټ سـقوط) په نوم ياده شوه.»[5]

سره له دې چې د واترګېټ پېښه په دې ځای کې زموږ پر څېړنه پورې اړه نه لري، بيا هم د ميرمن هانت او د هغې مېړه چې د ولسمشر کېنېډي په ترور کې يې برخه درلوده، بده به نه وي چې په اړه يې لنډ مالومات وړاندې شي: د امريکا په واشنګټن ډي.سي کې د واترګېټ په نوم يو هوټل دی چې په ۱۹۷۲ز. کال کې د امريکا د ډيموکرات ګوند د ولسمشرۍ د ټاکنو مرکزي دفتر په کې ؤ، د ولسمشرۍ د ټاکنو پر مهال د امريکا د ديموکرات ګوند پنځه تنه غړي د جون په ۱۷مه نېټه نوموړي دفتر ته د جاسـوسـې او غلا په موخه ننوتل ترڅو په هغه ځای کې د جاسـوسـې لپاره غږاوريدونکي وسـايل ځای‌پرځای کړ، هغه وو چې دا کســان ونيول شــول، هغه مهال چې د امريکا ولســمشــر د ديموکرات ګوند لـه‌خوا ريچارډ نيکسن په واک کې ؤ، هغه هڅه وکړه چې دا مسله پټه کړي خو د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې لخوا رسـوا شـوه. لنډه دا چې ولســمشــر نيکســن د دغه عمل له کبله په ۱۹۷۴ز. کال کې د امريکا له ولسمشرۍ څخه استعفا وکړه.

د واترګېټ له ملاترو څخه يو هم د شـيکاګو اسـتوګن، پلټونکی (شـــرمن ســـکولنيک) ؤ چې ويل يې، **الوتکه د سي.آی.اې لـه‌خوا غورځول شوې ده.** [6]

سکولنيک څرګنده کړه چې ميرمن هانت له ځان سره ۲ ميليونه ډالره (سفري چکونه) او حوالـه‌پاڼې (چې د ولسمشر د بيا ټاکنې له کميټې (واترګېټ) څخه غلا شوې وو) او ۵۰ زره ډالر نغدې پيسې او هغه اسناد لېږدول چې پر بنسټ يې د ولسمشر ريچارډ نيکسن استيضاح راپاروله ... .[7]

د الوتکې د راغورځېدلو په لومړيو څو ساعتونو کې د ايفـبي‌آی کارکوونکو ځينې داسې کارونه وکړل چې پخوا يې سـاری نه ليدل کېده چې د ايفـبي‌ای، دا ډول کړنو دا شـکونه لا پسـې پياوړي کړل چې د ميرمن هانت د وژلو لپاره نوموړي الوتکه راغورځول شوې ده.

**د لومړي ځل لپاره، د ايفـبي‌آی يو کارکوونکی (لـه دې وړاندې چې اړوند او مســـؤل پلټونکي دا کار وکړي) د الوتکو د کنټرول برج ته ورغی او د برج راډيويي ثبت شوې غږونـه يې واوريدل.**

همدارنګه د ايفـبي‌آی يو بل کارکوونکي، د امريکا د ترانسپورټ د خونديتوب ملي بورډ (NTSB) له پلټنو وړاندې د سقوط له شاهدانو (د الوتکې د خادمانو په شمول) مرکې ترسره کړې. شـاوخوا ۵۰ تنه د ايفـبي‌آی کارکوونکی د

---

4:http://www.spartacus.schoolnet.co.uk/JFKindex.htm
5 :https://archive.org/details/yankeecowboywarc00ogle
6: https://archive.org/details/yankeecowboywarc00ogle

7. هماغه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پېښي ځای ته، وروسته له ۴۵ دقيقو څخه ورسېدل... د ايفبي‌آی څېړني د پېښي له رامنځ ته کېدو څخه ۲۰ ساعته وروسته پای ته ورسېدي.[8]

ای. هاوارد هانت د خپلو خاطرو په کتاب **(امريکايي جاسوس: زما پټه کيسه، په سي‌آی‌اې، واترګيټ او له هغي ها خوا)** چي د ده له مرګه وروسته خپور شو، ليندون جانسون او څو تنه نور د سي‌آی‌اې کارکوونکي د ولسمشر کېنېډي په ترور کي په لاس لرلو تورن کړل.[9]

وروسته بيا د ای. هاوارد هانت د زامنو لهخوا **(د مرګ پر بستر اعتراف)** په نوم، د هغه يو غړيز پيغام خپور کړای شو چي هانت ادعا کړي وه چي [د کېنېډي د ترور] په يوه توطيه کي چي خپله هم په کي ښکېل ؤ، لومړني مالومات لري. **په دې اعتراف کي هغه ويلي وو چي د ډالاس په ښار کي د ترور پر مهال يې پټه دنده ترسره کوله. او څو تنه د سي‌آی‌اې لوړ پوړي چارواکي يې د ترور د تدارکاتو مسؤلين ياد کړي وو.**[10]

د ای. هاوارد هانت له څرګندونو ښکاري چي له ده او ميرمني سره يې د کېنېډي د ترور په هکله مهمو مالوماتو شتون درلود. شوني ده چي ميرمن هانت، د ولسمشر کېنېډي د ترور د مالوماتو له امله وژل شوي وي. د ميرمن هانت د مړينې په اړه يې پټ... د ای. هاوارد هانت ژوند او مړينه د امريکا په معاصر تاريخ کي له دوو سترو رسواييو سره تړلی دی چي يو يې د جان ايف. کېنېډي ترور او د واترګيټ پېښه ده.

د يونايټډ ايرلاينز ۵۵۳ الوتکي پر راغوځولو چي په ۱۹۷۲ز. کال کي راوغورځول شوه، دوې نوري الوتکي هم تر شک لاندي دي چي د کېنېډي د اسنادو او شواهدو د له منځه وړلو په موخه له منځه وړل شوي او په عمدي توګه غورځول شوي دي چي يوه يې د امريکا (TWA 800) مسافروړونکي الوتکه وه چي په کال ۱۹۹۶ز. کي د امريکا د سمندري ځواکونو لهخوا په توغندي وويشتل شوه.

ويل کيږي چي نوموړي الوتکه د امريکا د سمندري استخباراتو ONI افسرانو کار ؤ چي **يو فرانسوی استخباراتي مامور ووژني، هغه چي د جان ايف. کېنېډي د کوندي او کورنی په استازيتوب يې اسناد او ويډيوګاني پاريس ته وړلې چي د کېنېډي د ترور پلان يې افشا کاوه.**

دا ډول د ۱۹۹۹ز. کال د جولای مياشتي په ۱۶مه نېټه، د ولسمشر کېنېډي د زوی (جان ايف. کېنېډي جونيور) له خپلي ميرمني او خوښيني سره په خپله شخصي الوتکه کي ژوند لاسه ورکړ. وايي چي د کېنېډي جونيور شخصي الوتکه وروسته له هغې، د يوې بمي چاودني له کبله راوغورځول شوه چي هغه ګواښ وکړ چي د ترور ټول پلان به په خپله خپرېدونکي مجله کي افشا کړي.

د امريکا درې واړه الوتکي چي پورته يې يادونه وشوه د دوی د راغوځولو عوامل ډېر پېچلي او نه پوهېدونکي دي چي تر اوسه پلټونکي اداري هم يوې ريښتيني پايلي ته نه دي رسېدلي، موږ چي د دغو درو الوتکو د غورځېدو په اړه پورته نظرونه وليکل دا يوازې د اشخاصو شخصي ليدلوري دي چي احتمال لري، د کېنېډي د ترور له شاهدانو سره تړاؤ ولري يا يې ونه لري خو په غوڅه توګه نه شو ويلی چي دا درې واړه الوتکي د ولسمشر کېنېډي د کورنی د ترور د شواهدو د افشا کولو له امله راغورځول شوي دي، په هر حال موږ يوازې اشاره ورته وکړه.

نېټه:۱۴۰۴/۷/۱۶ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري ليکني په دې لينک کي ولولې.

[8]: هماغه

[9]: Weiner, Tim (May 13, 2007). "Watergate Warrior". *The New York Times*. https://www.nytimes.com/2007/05/13/books/review/Weiner-t.html

[10]: *Hedegaard, Erik (April 5, 2007). "The Last Confessions of E. Howard Hunt"* https://web.archive.org/web/20080618150441/http:/www.rollingstone.com/news/story/13893143/the_last_confessions_of_e_howard_hunt/1



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ